

## د سیول د څانګي لنډه تاریخچه:

د سیول څانګه د انجنیري پوهنځی د بُست پوهنتون په چوکاټ کي د (1391) هـ ش کال کی د لوړو زده کړو وزات لخوا منظور او تاسیس سوه او په فعالیت یې شروع وکړه ترڅو د انجنیري په برخه کي کادرونه وروزي .

ده دې څانګي تحصیلي دوره (8) سمستره په سیول ډیپارټمنت کي تکمیل کیږي . پدې څانګه کي تدریس په عملي او نظري ډول او د نوي تکنالوژۍ په مرسته مخته وړل کیږي دا څانګه د تأسیس له وخته تر اوسه د پوره شفافیت او لوړ کیفیت لرونکې ده او په ښه ډول یې ټول علمي چاري مخته ځي، ځینو استادانو یې د پوهنځی او پوهنتون څخه د ښه کړنو او فعالیتونو له وجهي ستاینلیکونه تر لاسه کړي .

د انجنیری پوهنځی د سیول څانګي تردې مهاله (98) تنه د لیسانس په کچه په سیول څانګه کي فارغان ټولني ته د خدمت لپاره وړاندي کړي دي او همداسي دا لړۍ جریان لري.

## زده کړه ایزي موخي:

د انجنیرۍ پوهنځی فارغان به لاندي وړتیاوي ولري:

- د انجنیرۍ مسلک اړوند علمي، تخنیکي او مسلکي پوهه.
- د اداري چارو پر مخ وړل.
- د خپل مسلک اړوند په سیمه ایزه او نړیواله کچه سیمینارونه او ورکشافونه دائیرول.
- د ټولني آینده نسل په مسلکي او صمیمانه ډول روزل.
- د هیواد په پرمختګ کي د هر ډول سرښندني په بدل کي ونډه اخیستل.
- د Preclinical زده کړو وروسته د لابراتوار ټولي تجربې او تیسټونه پېژندل او ترسره کول.
- په انکشافي او مسلکي ادارو کي د اداري چارو پر مخ وړل.
- د کار په ساحه کي د کارګرانو سره ښه او صمیمانه چلند.
- د ماسترۍ او دوکتورا په کچه لوړي زده کړي کول.
- د هیواد او نړۍ په کچه انکشاپي، پرمختیایی زېربینایي برنامو او ټرینینګونو کي برخه اخیستل.
- دولتي، غیر دولتي مؤسسو، ادارو، ارګانونو او ساختماني شرکتونو کي د کار کولو وړتیا او مهارت.



## د فارغ التحصیل محصلانو څخه روښانه تعریف

د فارغ التحصیل محصلانو څخه روښانه تعریف:

د ( سیول ) برنامې د فارغ التحصیل څخه روښانه تعریف فورم د بُست پوهنتون انجنیري پوهنځی د سیول څانګه د مسلکي او متخصصو کادرونو د روزني په موخه ایجاد سوي، په دې اساس انجنیري پوهنځی د سیول څانګه هغه شخص د خپل لیسانس دورې فارغ التحصیل بولي چي د انجنیری د سیول په ډیپارټمنټ کي (166) کریډیټونه یې په یوه څلور کلنه تحصیلي دوره (8 سمسټرونو) کي پوره کړي او د پوهي، وړتیاوو او چلند په برخو کي د لاندي شرایطو درلودونکي وي:

1ـ د پوهي په برخه کي: انجنیري پوهنځي دسیول څانګی فارغ التحصیل وکولای سي چي د لیسانس په کچه پر (مهندسي ،ډیزاین، براورد، سروي ، پروپوزل ،ساختمانی مدیریت) موضوعاتو باندي برلاسي دژبې پرڅلورو وړتیاو و (اوریدولو ،ویلو ،لوستلو ،لیکلو) باندي تسلط ولري ترڅو وکولای شي دسیول انجنیر دمتخصص کادر په توګه په تولنه کی شتون په ډاګه کړی .

2ـ د وړتیاوو په برخه کي: د انجنیری پوهنځي دسیول څانګی فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چي د اړتیا تر کچي له (دیو ساختمان پروژی ښه مدیریت، کمپیوتری مهارتونو ،زده کړیزو پرګرامونو دایرولو وړتیا او نورموضوعاتو سره آشنایي لري او پدې برخه کي د خپلي ستونزي د هوارۍ توان لري.

3ـ د چلند په برخه کي: د انجنیری پوهنځي دسیول څانګی فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چي د خپلو تخصصي (طبعی ) او مسلکي مضمونونو له منځپانګي څخه یې د هیواد د نافذه قوانینو ته درناوی، اکاډمیک اخلاق، هیوادپالنه، لوړ اسلامي، انساني، افغاني او اخلاقي ارزښتونه یې زده کړي دي او ټولو ارزښتونو ته ژمن او د هر ډول تعصب او توپیري چلند څخه خلاص وي.

د انجنیری پوهنځي دسیول څانګی څخه فارغ سوي محصلین به پدې وتوانیږي، چي په پرمختیایی، اداري، تولنیز ، انکشافی مسائیلو او موضوعاتو وپوهیږي، همدارنګه د بُست پوهنتون په اسنادو او ډیپلوم د هیواد په ګوټ ګوټ کي په هر دولتي او خصوصي سکتور کي منل کیږي او همچنان موږ پدې ویاړو چي زموږ اسناد د نړۍ په هر پوهنتون کي د ماسترۍ او دوکتورا د پروګرامونو او زده کړو لپاره د منلو وړ دي.





انجنیرۍ پوهنځی

FACULTY OF ENGINEERING

# سیول انجنیري

# SIVAL ENGINEERING

## CONTACT US

Phone: +93 702 300 728

Email: eng@bost.edu.af

Web: www.bost.edu.af

Address Bost University Complex

Lashkargah Helmand Afghanistan

## د سیول څانګي لیرلید او ماموریت:

### لیرلید(Vision)

د سیول انجنیري پوهنځی څانګه هڅه کوي تر څو د هیواد په کچه غوره او وتلې څانګه اوسي څو ټولنی ته مسلکي او وتلي انجنیران وړاندي کړي ترڅو د ښووني، پلټني، مسلکي فعالیتونو په مرسته د بنسټیزو ستونزو پرحلولو باندی بریالی سي.

### ماموریت(Mission)

سیول انجنیري د انجنیرۍ په مختلفو برخو کي او کارنده پلټنو د سرته رسولو ، دانجنیرۍ د اړتیا وړ نوي پوهني خپرولو لپاره د سیمه ایزو اړتیاو د له منځه وړولو په موخه او د پایداره ولایتي پرمختګ له لاري د ژمني او په کار پوه انجنیرانو په روزولو سره ملي پرمختګ کی د غوځ رول د سرته رسولو هڅه کوي